<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

# په سوریه کې د ظالم رژیم را پرځېدو مظلوم خلک خوشاله کړل

(ژباړه)

موږ په عام ډول ټولو مسلمانانو ته او په ځانګړې توګه د شام او لبنان خلکو ته د شام د ظالم، د بعث ګوند، د الاسد کورنۍ، د هغوی د لاسپوڅو، جاسوسانو او پلویانو د زوال مبارکي وایو. دغو ظالمانو په لبنان او سوریه کې مسلمانان ووژل، شکنجه یې کړل، زندانونو ته یې واچول او بې ځایه کېدو ته یې اړ کړل.

د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر په ۸مه، بشار له انقلابیونو څخه وتښتېد او ظالمانه واکمني یې پای ته ورسېده. اوس د مجرمانو د سزا ورکولو وخت دی. مسلمانان د سترې خوښۍ حق لري، او زموږ خوښي هغه وخت بشپړېږي چې د الله جل جلاله قانون پلی شي او اسلامي هېوادونه سره یو موټی شي.

**اې په لبنان کې زموږ خلکو:** تاسو د شام او د مسلمانانو د ځمکو یوه برخه یاست، او د شام ظالمو لاسپوڅو تل تاسو داسې سپک کړي یئ لکه څنګه یې چې د فلسطین بې ځایه شوي خلک سپک کړي دي. اوس د دې وخت دی چې د سپکاوي دوره ټک وهئ او د خپلو هغو دښمنانو - له یهودي اداري نیولې بیا د حکامو په منځ کې د هغوی تر ساتونکو او د دوی تر غربي بادارانو پورې- پر وړاندې سره یو موټی شئ چې ستاسو شاوخوا یې کمین نیولی دی.

موږ، حزب التحریر - ولایت لبنان، له تاسو غواړو چې له موږ سره د الله سبحانه وتعالی د وعدې پوره کولو لپاره کار وکړئ، څو د نبوت پر منهج راشده خلافت په تاسیس کولو سره اسلامي ژوند بیا پیل کړو؛ هغه خلافت چې د الهي احکامو له مخې به حکومت کوي او ټولې نړۍ ته به یې رسوي. په هغه ورځ به مومنان د الله په فتح خوښ شي، او د امت د هویت بیا رغونه به د مسلمانانو او نورو لپاره یو راحت وي. لکه څنګه چې هر چا سلګونه کلونه د خلافت تر سیوري لاندې د امنیت، خوندیتوب، شتمنیو ساتنې، تعلیم، طبي درملنې او پاملرنې په ګډون خپل حقونه ترلاسه کړي دي، تاسو به هم په خپل دولت، یعنې د نبوت پر منهج راشده خلافت کې له دغو حقونو برخمن شئ.

د لبنان چارواکي باید بې له ځنډه اقدام وکړي او له رومیه زندان او د لبنان له نورو زندانونو څخه هغه مسلمان بندیان خوشې کړي چې په ناحقه او ظالمانه توګه بندیان شوي دي؛ دا بندیان له کومې استثنا پرته د شام له انقلاب څخه د ملاتړ په جرم د زندان د میلو شاته پراته دي. دا کار به د لبنان د مسلمانانو د ډېرې زیاتې خوښۍ سبب شي.

**«وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ»** [القصص: ۵]

**ژباړه:** *«او غواړو د دې خاورې پر کمزورو کړای شویو (مظلومانو) منت وکړو او دوی (د خلکو) پیشوایان او وارثان کړو.»*

## حزب التحریر مطبوعاتي دفتر – ولایه لبنان

۱۴۴۶هـ.ق کال د جمادی الثاني ۶مه

۲۰۲۴م کال د ډسمبر ۱۲مه

د صدور ګڼه: ۰۷/۱۴۴۶